**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د اخرت شهيدان او د قضاء و قدر پوښتنه

**ماتاز قوسمي ته:**

**(ژباړه)**

## پوښتنه:

قدرمن شيخ صاحب: السلام عليكم ورحمة الله وبركاته! الله سبحانه وتعالی دې دربانديې ورحميږي او ستاسو په لاسونو دې نصرت راپه برخه کړي. د اسلامي شخصيې (شخصيه اسلاميه) په لومړي جلد کې د قضاء او قدر په اړه يوه پوښتنه لرم.

کله چې د هغې دايرې د اعمالو خبره کېږي چې پر سړي مسلطه وي البته په هغه برخه کې چې د کايناتو له مستقيمو قوانينونو څخه بېله وي، د دې کتاب (عربي بڼې) په ۹۴مه پاڼه کې د بېلګو له راوړلو وروسته داسې راغلي: «له همدې امله به ده ته نه کوم اجر او نه هم کومه سزا ورکول کېږي.»

موږ څنګه کولی شو دې عبارت ته له هغه حديث سره تطابق ورکړو چې پکې راغلي، المبطون (هغه شخص چې د ګېډې له ناروغۍ ومري) او الغريق (هغه شخص چې غرق شي) او هغه چې کور پرې را ونړېږي؛ شهيدان دي (د اخرت شهيدان)، په دې مانا چې هغوی ته به بدله (اجر) ورکول کېږي او دا اجر به ستر وي، ان که دا پېښې د انسان په خوښه او اراده نه وي رامنځته شوي. الله سبحانه وتعالی دې پر تاسې ورحمېږي. ابو حمدي فلسطين.

## ځواب:

وعليکم السلام ورحمة الله وبرکاته!

زما وروره، دا موضوع د اختياري اعمالو، ثواب او جزا تر چتر لاندې راځي؛ يعنې، کوم اعمال چې په دې دايره کې راځي سړی پرې مسطله وي. دا هغه اعمال دي چې ثواب او جزا لري، که چېرې انسان د يو حرام عمل مرتکب کېږي جزا ورکول کېږي او که چېرې يو فرض عمل ترسره کړي، نو اجر ورکول کېږي، که د الله سبحانه تعالی خوښه وي.

په همدې ډول کوم اعمال چې په هغې دايرې پورې اړه ولري چې پر سړي مسلطه وي؛ يعنې، يو څوک يې په خپله خوښه نه ترسره کوي، ځکه خو د دې اعمالو په بدل کې سزا او ثواب نه شته؛ يعنې، دا اعمال د ثواب او جزا تر عنوان لاندې نه شي راتلای، ځکه يو شخص يې په خپله خوښه نه ترسره کوي.

دا چې الله سبحانه وتعالی يو شخص ته د يوه داسې عمل چې د ده په خوښه نه وي واقع شوی، اجر او بدله ورکوي دا بېله مسله ده. دا موضوع د ثواب او جزا تر چتر لاندې نه راځي، البته دا د الله سبحانه وتعالی له لورې فضل او کرم دی. اصلي مسله همداسې ده.

له همدې امله، المبطون (هغه شخص چې د ګېډې له ناروغۍ ومري) او المطعون (هغه شخص چې په وبا کې ومري) او داسې نور. حقيقت دا دی چې الله سبحانه وتعالی دوی ته د شهادت مرتبه ورکړې ده، دوی دا اعمال په خپله خوښه د دې لپاره نه ترسره کوي چې الله سبحانه وتعالی ته ځانونه نږدې کړي، له دې کبله دوی د دې اجر مستحق ګرځي؛ يعنې، دا د رسول الله صلی الله عليه وسلم د وينا برخه نه ده:

«**الْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ وَالسَّيِّئَةُ بِمِثْلِهَا إِلَّا أَنْ يَتَجَاوَزَ اللَّهُ عَنْهَا**» [البخاري].

***ژباړه:*** *حسنه (غوره اعمال) له لسو تر اوو سوو ځلې پورې اجر لري او سيئه (بد اعمال) هم همداسې، پرته له دې چې الله سبحانه وتعالی مغفرت ورته وکړي.*

البته د الله تعالی فضل او کرم بيا بېل څه دي.

زه هيله لرم چې همدومره به کفايت کوي، الله سبحانه وتعالی عالم او حکيم ذات دی.

**ستاسې ورور عطاء بن خليل ابوالرشته**

**۱۴۴۱ هـ ق د روژې ١٦مه**

**۲۰۲۰م د مې ۹مه**

**ژباړن: سلطان وليد**